AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

2009/12/20 ويسا

# د "افغانستانی" سيد مخدوم رهين دويم ځلي کانديدول

**په ولسي جرګه کې له ناستو وکيلانو څخه غوښتنه دا ده چې د خپلو ډېرو نورو ناوړه چارو ترڅنګ دې ولس سره يوه ښېګڼه دا ځلي بيا وکړي چې که نورو کانديد وزيرانو ته نه وي نو لږ، ترلږه دې خو دغه رهين ته د وزير په توګه باور رايه ورنه کړي.**

سياست يو ځل بيا خپل رنګ وښود، کرزي يو ځل بياخپلي ژمني ماتي کړې، ملت يو ځل بيا له يوه بل سترګوابښ سره مخ شو او په ټوله کې يو بل د ځينو کم ارزښتو له انده کم ارزښته خو په رېښتيني مانا يو لوی ناورين پر افغان ولس د راتپل کېدو په درشل کې شو.

هو!په هندوستان کې په کار بوخت (افغان خو ورته نه شو ويلای) خو د هغه پخپله اصطلاح افغانستانی سفير سيد مخدوم رهين د افغانستان د يوې ډېرې سترې مانيزې ادارې (اطلاعاتو او کولتور وزارت) د بيا ځلي وزير په توګه د کرزي په نوې کابينه کې اعلان شو .

دا هغه پردی پالی مخدوم رهين دی چې کرزی غواړي د کولتور وزير يې کړي!

د کرزي نورو ګناهونو او دې اوسنۍ دغې ته چې سړی ګوري نو ځمکه پرې سره لمبه شي ځکه که د نورو په کولو که خپله دی او د ده پلويان دی په ځينو مجبوريتونو اخته ګڼي خو فکر نه کوم چې که دې سړي ته دې دومره سياسي ملاتړ جاصل وي چې ښاغلي کرزي ته دې کوم امتياز او يا هم د ولسمشرۍ پر دې مبارکۍ څوکۍ! د څه وخت کرارې ناستې چانس ورکړي.

باور وکړئ له دې په خبريدو چې مخدوم رهين بيا کولتور وزارت ته ګوماريدونکی دی، هېڅ باور نه راته، ځکه کرزي صيب به په تېر ځل کې د ولسي جرګې د يو شمېر ملتپالو او رېښتينو غړو هغه خبرې اورېدلي وې،يابه ترې خبر شوی وي چې د رهين په اړه وشوې او ښه په نره د ولس نرو استازو دغه ايرانپالې څېره رد کړه،خو اوس نه پوهېږم چې د يون صيپ په شان د کرزي ترڅنګ د خلکو شتوالی څنګه بيا هم د دې لامل نه شو چې کرزی له تېرو لارو راوګرځوي؟

زه دا نه شم ويلای چې دا ناورين به کوم ځای ته ورسيږي، کرزی به ترکومه په دې ګناه ټينګ وي خو دا ويلای شم چې يوازې د کرزي لخوا د رهين دويم ځلي کانديدول هم افغان ولس ته چې د رهين په شان خلکو يې تل پر ارزښتونو، اتلانو، دودونو او...ملندې وهلي، يولوی سپکاوی ګڼم.

له کرزي څخه خو په دې برخه کې کومه غوښتنه ځکه نه لرم چې نوره نه يوازې زما بلکې؛ د ټول ولس هيلې ترې له منځه لاړې دي، خو **په ولسي جرګه کې له ناستو وکيلانو مې غوښتنه دا ده چې د خپلو ډېرو نورو ناوړه چارو ترڅنګ دې ولس سره يوه ښېګڼه دا ځلي بيا وکړي چې که نورو کانديد وزيرانو ته نه وي نو لږ،ترلږه دې خو دغه رهين ته د وزير په توګه باور رايه ورنه کړي.**

ورسره له ښاغلي يون او هم شانو ملګرو يې چې د کرزي په ولسمشرکولو کې يې له هرې لارې د کار اخېستو هڅه کړې، غوښتنه لرم چې د تهران په کابل کې او ورته نورو ليکنو موخو او غوښتنو ته په پام سره دې پر کرزي يا دا ومني چې نور به پر خپل ولس، پر خپلو خلکو او پر خپلو ارزښتونو ملندې نه وهي او يا دې ترې لاره بېله کړي او د رهين د بيا وزير کېدو په درشل کې دې د ((سيدمخدوم رهين د قضاوت په تله کې)) په زړه پورې او له حقايقو ډک چاپ شوي کتاب د دويم ټوک د خپراوي لپاره لاسونه ورکړي.

پر دې بې پوښتني ولس او يوازې شوو ارزښتونو د رحم او زړه سوي او د لا نه سپکاوي په هيله يې!

اوس د يوه چټک غبرګون په توګه همدومره! /پای/

منبع: ويسا





افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بداريد.